# شانِ فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہ

29-August-2019



هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتِماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# شانِ فاروقِ اعظم

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتكاف نِيَّت اوكړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** چه كله جُمات ته داخل شئ، چه ياد مو وي نو د اِعتِكاف نِيَّت كوئ، تر څو چه جُمات كښې ئې نو د اِعتِكاف ثواب به مو كيږي. ياد ساتئ! جُمات كښې د خوراك څښاك، اُوده كيدو يا پيشمني او روژه ماتي كولو، تر دې چه د آبِ زَم زَم يا دَم كړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته كه د اعتكاف نِيَّت مو كړے وي نو دا ټول كارونه به ضِمناً جائز شي. د اِعتِكاف نِيَّت هُم صرف خوراك څښاك يا اُوده كيدو د پاره كول نه دي پكار بلكه چه مقصد د **الله** تعالیٰ رِضا وي. "**فتاویٰ شامی**" كښې دي: كه څوك جُمات كښې خوراك څښاك يا اُوده كيدل غواړي نو د اِعتِكاف نِيَّت دِ اوكړي، لږ ساعت دِ ذِكْرُ الله اوكړي بيا چه څه غواړي كوي دِ (يعني بيا كه غواړي نو خوراك څښاك كولے شي او اُوده كيدے شي)

## د دُرُود شريف فضيلت

**امير المُؤمنين** حضرت عمر بن خطاب رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْه فرمائي: "اِنَّ الدُّعَاءَ مَوْقُوْفٌ بَيْنَ السَّمَاءِ

وَالْاَرْضِ لَا يَصْعَدُ مِنْهُ شَيْءٌ حَتّٰى تُصَلِّيَ عَلٰى نَبِيِّكَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ" يعني دُعا د زمکے او آسمان تر مينځه حصاره کړے شي تر څو چه ته په خپل نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې درود اُو نه ليږے نه شي اوچتيدے"

(ترمذی، کتاب الوتر، باب ما جاء فی فضل الصلاۃ علی النبی...الخ، ۲/۲۸، حدیث: ۴۸۶)

پڑھتا رہوں کثرت سے درود اُن پہ سدا میں اور ذکر کا بھی شوق پئے غوث و رضا دے

(وسائلِ بخشش مرمم، ص۱۱۴)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدو نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونه کوو: **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: **"نِيَّةُ الْمُؤْمِنِ خَيْرٌ مِّنْ عَمَلِهٖ"** د مُسلمان نِيَّت د هغه د عمل نه بهتر دے. (معجم کبیر سھل بن سعد الساعدی...الخ، ۶/۱۸۵، حدیث ۵۹۴۲)

**مَدَني ګل:** بيان کښې چه څومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات کيږي.

## د بيان اوريدلو آداب

نظر به ښکته ساتم او ښه په غور به بيان اورم. ☆ چه څومره کيدے شو د ډېره وهلو په ځائے به د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت دو زانو [يعني د اَلتَّحِيَّات په شکل کښې] کښينم ☆ د بل د پاره ځائے فراخه کولو د پاره به ضرورتاً د خپل ځائے نه خوزيږم ☆ که د چا په دِيکه وغيره اولګيدم نو د بد بد کتلو، رټلو او بحث کولو په ځائے به صبر کووم. ☆ صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب، اُذْكُرُوا الله، تُوبُوا اِلَى الله وغيره چه اورم نو د ثواب ګټلو او د آواز

لګوونکو د زړه ساتلو د پاره به په اوچت آواز باندې جواب ورکووم. ☆ د اِجتِماع نه پس به پخپله ورمخکښې کيږم او سَلام و مُصافَحه او اِنفرادي کوشش به کووم.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د اسلامي کال د آخري مياشتے **ذُوالْحِجَّةِ الْحَرام** آخري ورځے دي، نزدے ده چه د **مُحَرَّمُ الْحرام** مياشت به ښکاره شي او خپل برکتونه به عام کړي او نوے اسلامي کال به شروع شي. د اسلامي کال وړومبۍ مياشت **مُحَرَّمُ الْحرام** ډير نسبتونه لري، لکه په دې مياشت کښې د حق او باطل لوئي جنګ "**واقعه کربلا**" شوي وه، په دې مياشت کښې د حضرت موسٰی عَلَیْہِ السَّلام مدد شوے وو او فرعون او د هغه لښکر هلاك شوے وو. په دې مياشت کښې د حضرت نوح عَلَیْہِ السَّلام کشتۍ په "**جودي غر**" اودريدلي وه،. په دې مياشت کښې حضرت يونس عَلَیْہِ السَّلام ته د مهي د خيټے نه نجات حاصل شوے وو. په دې مياشت کښې د حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلام توبه قبوله شوي وه.(عمدۃ القاری، کتاب الصوم، تحت الباب صیام یوم عاشوراء، ۸/۲۳۳ملخصاً) د دې نه علاوه نور هم ډير نسبتونه دي خو د دې يکم تاريخ د مسلمانانو عظيم خليفه، **اَمِيرُ الْمُؤمِنِين** حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ سره هم نسبت لري چه په دې ورځ هغوئي شهيد شوے وو. په دې مناسَبَت به نن مونږه د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ د شان مُتَعَلِّق د بيان اوريدلو سعادت حاصلوو. **الله** پاك دِ مونږ ته ښو ښو نيتونو سره د ټول بيان اوريدلو سعادت را نصيب کړي. **اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

**راځئ چه**! د ټولو نه مخکښې یو حِکایت واورو:

## د حق و صداقت امین جَنَّتي محل

د دعوتِ اسلامي د اشاعتي ادارے **مَکْتَبَۃُ الْمَدِیْنه** کتاب "***فیضانِ فاروقِ اعظم***" جلد 2 صفحه 169 کښې دي: **اَمِیْرُ الْمُؤمِنِین** حضرت علی المُرتضٰی شیرِ خُدا کَرَّمَ اللّٰہُ تعالیٰ وَجْہَہُ الْکَرِیْم نه روایت دے چه یو ځل حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ تعالیٰ عَنْہ په بارګاهِ رسالت کښې عرض اوکړو: یارَسُولَ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! ما ته خبر راکړئ چه د معراج په شپه تاسو په جنت کښې څه څه لیدلي وو؟ خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائیلو: اے عمر بن خطاب! که زه په تاسو کښې دومره موده پاتې شم څومره موده چه حضرت نوح عَلَیْہِ السَّلَام په خپل قوم کښې ([یعني] د زرو کالو پورے) پاتې شوے وو او بیا زه تاسو ته هغه جنتي واقعات او مشاهدات بیانووم نو بیا به هُم ختم نه شي. خو اے عمره! چه تا ما ته دا اووئیل چه ما ته د جَنَّت خبرے اوښایه نو زه بیا تا ته هغه خبره ښائم کومه چه ما ستا نه علاوه بل چا ته نه ده ښودلي. (او هغه دا ده چه) ما په جَنَّت کښې یو عالیشان محل اولیدو چه د هغے دُرشل د جنتي زمکے نه لاندې وو او برنئ حصه ئې د عرش په مینځ کښې وه. ما د جبریل امین عَلَیْہِ السَّلَام نه تپوس اوکړو: اے جبریل! آیا تا ته د هغه عالیشان محل په باره کښې معلومه ده چه د هغے دُرشل د جنتي زمکے نه لاندې وو او پاسنئ حصه ئې د عرش په مینځ کښې ده.؟ نو جبریل عَلَیْہِ السَّلَام عرض اوکړو: **یارَسُولَ الله** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! ما ته نه ده معلومه. ما ترینه بیا تپوس اوکړو: اے جبریل!

د دې محل رنړا خو داسے ده لکه په دنيا کښې د لمَر رنړا، ځه هم دا راته اووايه چه دې ته به څوك رسيږي او په دې کښې به څوك اوسيږي؟ نو حضرت جبريل عَلَيْهِ السَّلَام عرض اوکړو: **يَسْكُنُهَا وَ يَصِيْرُ اِلَيْهَا مَنْ يَّقُوْلُ الْحَقَّ وَيَهْدِىْ اِلَى الْحَقِّ وَاِذَا قِيْلَ لَهُ الْحَقُّ لَمْ يَغْضِبْ وَمَاتَ عَلَى الْحَقِّ** يعنې **يارَسُولَ الله** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! په دې محل کښې به هغه اوسيږي څوك چه صرف حق خبره کوي او د حق خبرے هدايت ورکوي او چه کله هغه ته څوك حق خبره کوي نو هغه غصه نه کوي او هغه به په حق باندے وفات کيږي. ما ترينه تپوس اوکړو: آيا تا ته د هغه نوم معلوم دے؟ عرض ئې اوکړو: آو جي! **يارَسُولَ الله** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه صرف يو کس دے. ما ترينه تپوس اوکړو: اے جبريل! هغه يو څوك دے؟ عرض ئې اوکړو: يا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! **عمر بن خطاب**. دا ئې چه واوريدل نو په **اَمِيرُالمُؤمِنِين** حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ تعالٰى عَنْه باندې رِقَّت راغے [يعني حالت ئې بدل شو] او بے هوشه شو او په زمکه را پريوتلو. حضرت عبد الله بن حسن رَضِيَ اللهُ تعالٰى عَنْه بيانوي: د دې واقعے نه پس مونږه فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ تعالٰى عَنْه کله په خندا نه نه وو ليدلے، تر دې چه هغوئې رَضِيَ اللهُ تعالٰى عَنْه د دنيا نه تشريف يوړلو.

(کنز العمال، کتاب الفضائل، باب فضائل صحابه، فضل الفاروق، ۲۶۴/۶، حديث: ۳۵۸۴۴)

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** معلومه شوه چه د **اَمِيرُالمُؤمِنِين** حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ تعالٰى عَنْه شان ډير عجيبه دے، د هغوئې شان خو دا دے چه د نُوري فرښتو سردار حضرت جبريل امين عَلَيْهِ السَّلَام هم د هغوئې شان بيانوي، خو دے سره سره

دلته د درس حاصلولو خبره دا ده چه د خپلو فضائلو اوريدلو باوجود هُم **اَميرُالمُؤمِنِين** حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ عاجزي او انكساري اختيار كړه او بيا خلقو اوليدله چه د دې واقعے نه پس سَيِّدُنا فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ كله هُم نه وو خندلي، تر دے پورې چه د دُنيا نه ئې تشريف يوړلو. **اے كاش!** چه مونږ ته هُم د سَيِّدُنا فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ په بركت حقيقي عاجزي او اِنكساري را نصيب شي.

په دې كښې هيڅ شك نشته چه سَيِّدُنا فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ د عاجزئ او اِنكسارئ نمونه وو، **راځئ چه!** د هغوئي د عاجزئ يوه اِيمان تازه كوونكي واقعه واورو:

## ناڅاپه دوه زمري راغلل

چنانچه منقول دي چه د روم بادشاه مدينے منوّرے ته يو عجمي كس راليږلے وو چه هغه مدينے ته راغے او خلقو نه ئې د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ تپوس اوكړو نو خلقو ورته اووئيل چه هغوئي د غرمے په وخت كښې د ښار نه لږ لرې د كجورو په باغ كښې آرام كوي. هغه عجمي كس په هغوئي پسے ګرځيدو ګرځيدو تر دے چه د هغوئي خوا ته را اورسيدو څه ګوري چه هغوئي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ خپله د څرمنے دُرَّه [يعني كوړه] د سر لاندې ايښودي ده او په خخ خوب اوده دے. عجمي كس په دې اراده توره د تِيكي نه را اوويستله چه **اَميرُالمُؤمِنِين** قتل كړي او اوتښتي، خو چه څنګه ور وړاندې شو نو ناڅاپه ئې اوليدل چه دوه زمري راغلل او خُلے ئې واځې كړي او په هغه حمله كولو والا دي. دا خوفناك منظر ئې چه اوليدو نو د ويرے نه ئې د خُلے نه چغه

اووتله، د هغه د چغے سره فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ راوينښ شولو او هغه عجمي كس ئې اوليدلو چه توره په لاس ولاړ دے او بدن ئې په لړزان دے. هغوئي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ ترينه د چغے او ويرے د وجهے تپوس اوكړو نو هغه رښتيا رښتيا ټوله واقعه بيان كړه او بيا ئې په اوچت آواز كلمه طيبه اولوستله او مسلمان شو، اَمِيرُ الْمُؤمِنِين هغه سره ډير د مهربانۍ او نرمۍ سُلوك اوكړو او د هغه قصور ئې مُعاف كړو. (ازالة الخفاء، فصل رابع، ۱۰۹/۴)

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** غور اوكړئ چه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ اَمِيرُ الْمُؤمِنِين وو، دوه ويشت نيم لكه مربع ميل باندے يواځې حكمران وو، د زرګاؤ فوځيانو كمانډر او لكونه كروړونه خلق د هغوئي ماتحت وو، هغوئي كه غوښتلے نو عالي شاني بنګلے به ئې جوړې كړي وے، په هغه بنګلو كښې به ئې د هر قِسمه سهولتونو انتظام كړے وے، په هغه بنګلو كښې به ئې د دُنيا ښكلي او ښائسته څيزونه جمع كړي وے، په هغه بنګلو كښې به ئې ښكلي ښكلي چمنونه جوړ كړي وے، لوئي لوئي باغونه به ئې پكښې جوړ كړي وے. ښكلي مرغۍ او ښائسته ځناور به ئې پكښې راجمع كړي وے، د صفا صفا اوبو عاليشان تالابونه به ئې پكښې جوړ كړي وے، بيشميره نوكران او غلامان به ئې وے. په هغه بنګلو كښې به ئې عاليشانے كوټے جوړې كړي وے او د ريښمنو قالينونه او پردے به ئې پكښې لګولي وے. د آرام كولو د پاره به ئې نرمے نرمے بسترے وے. **الغرض** كه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ غوښتلے نو د عيش او عِشرت نه ډك ژوند به ئې تيرولے، خو هغوئي داسې اونكړل،

بلکه حال دا دے چه هغوئي به په زمکه آرام کولو. لږ غور اوکړئ! يو طرف ته خو د مسلمانانو دويم خليفه اَمِيْرُالْمُؤْمِنِيْن حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہ دے چه سهولتونه ئې حاصل نه کړل او د عاجزئ ژوند ئې تيرولو او يو مونږه يو چه د دولت او دُنياوي عهدے په نشه کښې مست يو او په لوئې او تَڪَبُّر کښې اخته يو. مونږ کښې بعضې خلق خو هغه دي چه که څه منصب يا غټه عهده ورته ملاو شي نو په تَڪَبُّر کښې اخته شي او مَعَاذَالله نورو خلقو ته سپك نظر کوي.

حالانکه څوك چه دُنياوي مال و دولت او شُهرت لري هغوئي ته خو د زيات احتياط ضرورت دے چه چرې دا دُنياوي نعمتونه ئې د تَڪَبُّر په آفت کښې اخته نه کړي او د الله پاك د ناراضئ سبب جوړ نه شي. تَڪَبُّر داسې بد عيب دے چه د دې په وجه انسان په دُنيا او آخرت کښې ذليله او رُسوا شي لکه څنګه چه د خوږ نبي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: څوك چه د الله پاك د پاره عاجزي اختيار کړي، الله پاك به هغه ته اوچت والے [يعني عِزَّت] ورکړي، هغه به ځان کمزورے ګڼړي خو د خلقو په نظر کښې به عظيم وي او څوك چه تَڪَبُّر کوي الله پاك به هغه ذليله کړي، هغه به د خلقو په نظر کښې وړوکے وي خو ځان به لوئي ګڼړي، تر دې چه هغه د خلقو په نِزد د سپي او خِنزير نه هم بد تر شي.

(کنز العمال کتاب الاخلاق، قسم الاقوال، ۲/۵۰، حديث: ۵۷۳۴)

په يو بل ځائے کښې محبوب آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د چا په زړه کښې

چه د ورې د دانے همره اِیمان هُم وي، هغه به جهنم ته نه داخليږي او د چا په زړه کښې چه ورې د دانے همره تَڪَبُّر وي هغه به جَنَّت ته نه داخليږي.

(مسلم، کتاب الایمان، باب تحریم الکبر وبیانه، ص٦١، حدیث:١٤٨)

## د تَڪَبُّر نښے او نقصانات

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! یاد ساتئ!** تَڪَبُّر داسې هلاك کوونکے باطني مرض دے چه د دې سره نورې بیمارۍ پیدا کیږي او د ډیرو نیکو کارونو نه انسان محرومه کوي. حُجَّةُ الْاِسلام حضرت سَیِّدُنا امام محمد بن محمد غزالي رَحْمَةُاللهِ تعالٰی عَلَیْه فرمائي: مُتَکَبِّر [یعني کبرژن] کس چه څه د ځان د پاره خوښوي هغه د خپل مسلمان ورور د پاره نه شي خوښولے، داسې کس په عاجزۍ هم قادر نه وي چه هغه د تقوٰی او پرهیزګارۍ جرړه ده، کینه (یعنې په زړه کښې پټه دُښمني) هم نه شي پریښودلے، د خپل عزت ساتلو د پاره دروغ وائي، د دې دروغو د عزت په وجه غصه نه شي پریښودے، د حسد نه نه شي بچ کیدے، چا سره ښیګړه نه شي کولے، د خلقو د نصیحت قبلولو نه محرومه اوسي، د خلقو په غِیبَت کښې اخته شی، مُتَکَبِّر کس د خپل عزت ساتلو د پاره هره بدۍ کولو باندے مجبوره وي او د هر ښه کار کولو نه محرومه وی. (احیاء العلوم، ٣/٤٢٣)

نور فرمائي: د تَڪَبُّر اظهار کله کله د انسان د حرکاتو او ناستې ولاړې نه هم کیږي لکه (مخامخ کس سپك ګڼړلو او خپل ځان د هغه نه اوچت ثابتولو د پاره) پړسیدلے مخ نیولے [ناسته ولاړه کول]، تَندے تریوول، بد بد کتل، یوه ښپه په بله ښپه اړولې ناست ،

طعام خوړلو وخت کښې ډېره لګول، تَکَبُّر سره ګرځېدل وغيره . او کله کله ئې د خبرو کولو نه [هم پته لګي] مثلاً چا ته دا وئيل: (زه تا هيڅ شے هُم نه ګنړم) ته څوك ئې چه ما ته جواب راکوے، دغسې د مختلفو احوالو اقوالو او افعالو په ذريعه د تَکَبُّر اظهار کيدے شي، بيا په بعضو مُتَکَبِّرينو کښې [د تَکَبُّر] د ټولے طريقے موجودې وي او په بعضو مُتَکَبِّرِينو کښې بعضے. خو ياد ساتئ! چه دا ټولے خبرے به هله تَکَبُّر کښې شميرلے کيږي چه په زړه کښې ئې تَکَبُّر موجود وي، صرف دغه څيزونو ته تَکَبُّر نه شي وئيلے. (ماخوذ از احياء العلوم ، ۴۳۴/۳)

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! ياد ساتئ!** د تَکَبُّر ضروري معلومات حاصلول او د هغے د هلاك کوونکو مرضونو نه د بچ کيدلو طريقے **زده کول هم فرض دي** او اوس مونږه واوريدل چه تَکَبُّر څومره هلاك کوونکے مرض دے، چه کوم بدنصيبه کس په دے کښې اخته شي هغه تباه و برباد شي، او آخر دا چه د جَهنَّم حقدار جوړ شي، لِهٰذا زمونږه خير په دې کښې دے چه مونږه په خپل کمزوري بدن باندے رحم اوکړو او د جَهنَّم د عذاب نه اويَريږو، چه کله يو انسان نفس و شيطان د يو مسلمان سپك ګنړلو او غرور و تکبر کولو ته را پاروي نو هغه له په خپل تير وخت او د الله پاك په عطا ګانو باندې غور کول پکار دي. الله پاك دِ مونږ ته د عاجزئ اختيارولو او د تَکَبُّر نه د بچ کيدلو توفيق راکړي. **اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** په وړومبي حکايت کښې مونږ اوريدلي وو چه جبريلِ امين عَلَيۡهِ السَّلام د **اَميرُ المُؤمِنِين** حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنۡہ دا صِفَت بيان کړے وو چه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنۡہ حق خبره کوي، حق طرف ته رابلل کوي او په حق به د دې دُنيا نه تشريف وړي، واقعي د **اَميرُ المُؤمِنِين** حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنۡہ شان دا دے چه د هغوئي د خُلے نه به حق خبره وتله، هغوئي به حق طرف ته رابلل کول، او په حق سره ئې د دے دُنيا نه تشريف يوړلو، د هغوئي د حق وينا کولو د دې نه بل کوم غټ دليل کيدے شي چه څو ځله داسې شوي دي چه **اَميرُ المُؤمِنِين** حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنۡہ د يو څيز په باره کښې څه فرمائيلي دي نو د قرآن پاك آيتونه هُم هغه مضمون سره نازل شوي دي څنګه چه حضرت عمر رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنۡہ فرمائيلي وو.

حضرت مجاهِد رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنۡہ نه روايت دے، فرمائي: **كَانَ عُمَرُ يَرَى الرَّاْیَ فَيَنْزِلُ بِهِ الْقُرْآنُ** يعنې **اَميرُ المُؤمِنِين** حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنۡہ به چه کله څه رائے پيش کړه نو د هغے مطابق به قرآن نازليدلو. (تاریخ الخلفاء، ص۹۶، الصواعق المحرقة، ص۹۹) د **اَميرُ المُؤمِنِين** حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنۡہ صاحبزاده حضرت عبد الله بن عمر رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنۡہما فرمائي چه کله به په يوه معامله کښې د مختلفو صحابه کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوان نه رائے طلب کړے شوه او ورسره به زما پلار محترم حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنۡہ هم رائے پيش کړه نو قرانِ کريم به د هغوئي د رائے مطابق نازليدلو.

(فضائل الصحابة، و من فضائل عمر بن الخطاب، ۱/۴۱۵، حديث:۴۸۸، تاريخ الخلفاء، ص۹۶)

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د قرآنِ کريم زيات و کم شل آيتونه داسې دي کوم چه د **اَميرُ المُؤمِنِين** حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہ د قول يا فِعل موافَقت کښې نازل شوي دي. راځئ چه! داسې يو څو آيتونه سره د شانِ نُزُول واورو:

## وړومبے آيتِ مبارکه د مُقامِ اِبراهيم مُتَعَلِّق

د احاديثو مشهور کتاب **بُخاري شريف** کښې د حضرت اَنَس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہ نه روايت دے چه **اَمِيرُ المُؤمِنين** حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہ فرمائيلي وو چه په دريو خبرو کښې د الله پاك له طرفه زما موافقت شوے دے (په هغے کښې يوه دا هم ده چه) ما په بارګاهِ رسالت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کښې عرض اوکړو: **لَوِ اتَّخَذْنَا مِنْ مَّقَامِ اِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى** يعنې يارسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! که مونږه مقامِ ابراهيم **مُصَلّٰى** (يعنې د لمُونځ ادا کولو ځائے) جوړ کړو (نو څنګه به وي؟) نو الله پاك دا آيتِ مبارَکه زما په تائيد کښې نازِل کړو او مقام اِبراهيم ئې د **مُصَلّٰى** جوړولو حکم ارشاد اوفرمائيلو: **وَاتَّخِذُوْا مِنْ مَّقَامِ اِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى** (پ۱، البقرة:۱۲۵) **[مفهوم]ترجَمَهٔ کنزُالايمان:** او د ابراهيم د اودريدلو ځائے د لمَانځه مقام جوړ کړئ)

(بخاری، کتاب الصلوة، باب ما جاء في القبلة۔۔۔الخ، ۱/۱۵۸، حديث:۴۰۲ ملتقطاً)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**اے عاشقانِ اهلِبَیت!** اوس مونږ واوریدل چه **مقامِ ابراهیم** د لمَانځه ځائے جوړولو مشوره **اَمِیرُ المُؤمِنین** حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ ورکړي وه نو د هغوئي په موافقت کښې د قرآنِ کریم آیت نازل شو، چه په هغے کښې **مقام ابراهیم** د لمَانځه ځائے جوړولو حکم موجود وو. مقامِ ابراهیم څه څیز دے؟ د کوم ځائے نه راغلے دے؟ راځئ چه! د دې په باره کښې واورو:

## مقام اِبراهیم څه څیز دے؟

**مقام ابراهیم** هغه مُبارك کانړے دے چه په هغے **حضرت ابراهیم** عَلَیْہِ السَّلام اودریدلے وو او د **کعبةُ الله** دیوالونه ئې اوچت کړي وو. هغوئي عَلَیْہِ السَّلام چه څنګه په هغه [کانړي] باندې خپلې ښپے مبارکې کیښودلې نو خاص هغه حصه د الله پاك په قدرتِ کامِله د خاورے په شان نرمه شوه او د هغوئي عَلَیْہِ السَّلام د ښپو مبارکو نقش [چاپ] پکښې جوړ شو او باقي حصه هُم هغه شان وه. د ا د هغوئي عَلَیْہِ السَّلام ډیره عظیمه معجزه وه.

حضرت عبد الله بن عَمرو رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ فرمائي چه ما د نبي اکرم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه دا فرمان اوریدلے دے چه: رکن (حجرِ اسود) او مقامِ ابراهیم د جَنَّت د یاقوتو نه دوه یاقوتونه دي، که الله پاك د دې دواړو نور نه وے ختم کړے نو دوئي به د مشرق او مغرب هر څیز روښانه کړے وے.

(ترمذی، کتاب الحج، باب ماجاء فی فضل الحجر.... الخ، ۲/۲۴۸، حدیث:۸۷۹)

**مقام ابراهیم** د خانه کعبے نه تقریباً پاؤ باندے دیارلس میټره مشرق طرف ته قائم

دے. په دے کانړي کښې د يو قدم مبارك د نښے جوَړ والے لس سينټي ميټره او د بلے نهه سينټي ميټره دے، په دے کانړي باندے اوس د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د مبارکو ګوتو نښے نشته ، ځکه چه په شروع کښې دا کانړے په فريم يا صندوق وغيره کښې محفوظ نه وو او عاشقانو به د دې برکتونه حاصلولو د پاره دې ته لاسونه لګول او ښکلولو به ئې. په دې وجه ترينه د ګوتو نښے لرې شوي دي. اوس هُم دا کانړے د بيت الله شريف عمارت سره د شيشے په يو صندوق کښې بند دے، د دې زيارت هم کيدے شي. الله پاك دِ مونږ ته د بيتُ الله شريف او د مقامِ ابراهيم د زيارت سره سره د مکے مدينے د بيا بيا با ادب حاضرئ توفيق را کړي.

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

**اے عاشقانِ رسول!** مونږه د **اَمِيرُ الْمُؤمِنِين** حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْه په موافقت کښې نازل شوي آيتونه واوريدل! **راځئ چه!** يو بل آيت کريمه کوم چه د هغوئي د رائے په موافقت کښې نازل شوے وو د هغے شانِ نُزُول او نور تفصيل واورو:

## دويم آيتِ مبارکه د پردے د حکم متعلق

حضرت انس بن مالك رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْه نه روايت دے چه **اَمِيرُ الْمُؤمِنِين** حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْه په بارګاهِ رسالت کښې عرض اوکړو: **اِنَّ نِسَاءَكَ يَدْخُلُ عَلَيْكَ**

**اَلْبَرُّ وَالْفَاجِرُ فَلَوْ اَمَرْتَ اُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِيْنَ بِالْحِجَابِ** يا رَسولَ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ستاسو په خدمت کښې هر قِسم نيك او بد خلق راځي، نو تاسو **اُمَّهَاتُ الْمُؤْمِنِين** رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُنَّ ته د حِجاب(يعني پرده) کښې د اوسيدلو حکم ورکړئ. د هغوئي په موافَقَت کښې دا آيتِ حِجاب نازل شو: **يٰۤاَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِّاَزْوَاجِكَ وَ بَنٰتِكَ وَ نِسَآءِ الْمُؤْمِنِيْنَ يُدْنِيْنَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيْبِهِنَّ ؕ ذٰلِكَ اَدْنٰۤى اَنْ يُّعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ ؕ وَ كَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا (۵۹)** (پ۲۲،الاحزاب:۵۹)

[مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالایمان: اے نبي خپلو بيبيانو او صاحبزاديانو او مسلمانانو زنانۋ ته اوفرمايه چه د خپلو څادرو يوه حصه په خپلو مخونو باندے را اچوي، دا دے ته ډيره نزدے ده چه دوئي اوپيژندلي شي نو تکليف ور نکړے شي او **الله** بخښونکے مهربانه دے.

(بخاری، کتاب التفسیر، باب قوله لا تدخلوا۔۔۔الخ، ۳۰۴/۳، حدیث:۴۷۹۰)

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** په تفسير صِراطُ الْجِنان کښې د دې آيتِ کريمه نه لاندې دي: (په دې آيت کښې الله پاك ) ارشاد فرمائي: اے خوږه حبيبه! تاسو خپلو بيبيانو، خپلو صاحبزاديانو او مسلمانانو زنانۋ ته اوفرمائے چه کله هغوئي د څه حاجت د پاره د کور نه بَهر اوځي نو هغوئي دِ د خپلو څادرو يوه حصه په خپلو مخونو باندې اچوي. (صراط الجنان، ۹۴/۸)

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ** عَزَّوَجَلَّ د دعوتِ اسلامي مدني ماحول کښې په سُنّتو باندے د عمل کولو، د ګناهونو نه د بچ کيدلو، د نيك جوړيدلو او د نيکو خلقو په نقشِ قدم باندې د تللو ذهن ورکولے کيږي، تاسو هم د عاشقانِ رسول مدني

تحريك دعوتِ اسلامي مدني ماحول سره تړون اوکړئ او د ذيلي حلقے دولس مدني کارونو کښې حصه اخستونکي جوړ شئ.

## دولس مدني کارونو کښې يو مدني کار هفته واره ''مدني مذاکره''

د ذيلي حلقے دولس مدني کارونو کښې يو مدني کار هفته واره ''**مدني مذاکره**'' هم ده. د دے مدني کار بيشميره ديني او دنياوي فائدے دي: ۞ د **مدني مذاکرے** په برکت د ګناهونو نه د بچ کيدلو ذهن نصيب کيږي. ۞ د **مدني مذاکرے** په برکت علمِ دين حاصليږي. ۞ د **مدني مذاکرے** په برکت د شرم و حيا کولو ذهن جوړيږي. ۞ د **مدني مذاکرے** په برکت په سُنَّتو د عمل کولو ذهن جوړيږي.۞ د **مدني مذاکرے** په برکت ديني معلوماتو سره سره اخلاقي تربيت هم حاصليږي. اَلْحَمْدُلِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ د دے مدني کار په برکت بيشميره خلقو د ګناهونو ژوند پريښودلو او نيکي کوونکي جوړ شو.

بعضې اسلامي ورونړه مدني مذاکره کښې شرکت کولو کښې په دې وجه سستي کوي چه د شپے ډير ناوخته کيږي او د هغے په وجه خوب نه پوره کيږي. سوچ خو اوکړئ چه [اکثرو ښارونو کښې] دنياوي تقريبات د شپے ناوخته پورے جاري وي، هلته خو چا ته داسې وسوسے نه ورځي. يعني د شپے ناوخته پورے د ودونو په دعوتونو او نورو مختلفو دعوتونو کښے شرکت کولے شي. د شپے ناوخته پورے خپل ذاتي کارونه هم کولے شي. د شپے ناوخته پورے سوشل ميډيا هم استعماليږي. د شپے ناوخته پورے نور مختلف کارونه کولے شي. چه داسې کارونو د پاره وخت ويستلے شي نو د

علمِ دين زده كولو د پاره هم وخت ويستل پكار دي، بلكه د علمِ دين د پاره كه د زيات وخت وركولو موقع راشي نو هم وخت وركول پكار دي.

راځئ چه! د ترغيب د پاره يو مدني سپرلے واورو او پابندئ سره مدني مذاكره كښې د شركت كولو نيت اوكړو چنانچه

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! اَمِيرُ المُؤمِنِين** حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ تعالٰی عَنْه د ډيرو صفتونو مالك وو، هغه كوم صِفَت دے چه په هغوئي كښې نه وو. ۞ حضرت عمر رَضِیَ اللهُ تعالٰی عَنْه د خوفِ خدا نمونه وو، ۞ حضرت عمر رَضِیَ اللهُ تعالٰی عَنْه حقيقي عبادت ګزار وو، ۞ د حضرت عمر رَضِیَ اللهُ تعالٰی عَنْه ټول ژوند د زُهد و تقوٰى نه ډك وو. ۞ د حضرت عمر رَضِیَ اللهُ تعالٰی عَنْه د سترګو نه به اكثر د خوفِ خدا په وجه اوښكې روانے وے، ۞ حضرت عمر رَضِیَ اللهُ تعالٰی عَنْه به خلقو ته هم د تقوٰى او پرهيزګارئ درس وركولو، ۞ حضرت عمر رَضِیَ اللهُ تعالٰی عَنْه داسې مُتَّقي وو چه څوك به د هغوئي په صحبت كښې اوسيدلو هغه به هم مُتَّقي جوړ شو، ۞ د حضرت عمر رَضِیَ اللهُ تعالٰی عَنْه دا معمول وو چه ماشومانو ته به ئې د خپل ځان د پاره د بخښنې د دُعا وئيلې ۞ حضرت عمر رَضِیَ اللهُ تعالٰی عَنْه به هميشه د الله پاك د پټ تدبير نه ويريدلو، ۞ حضرت عمر رَضِیَ اللهُ تعالٰی عَنْه د عاجزئ او انكسارئ نمونه وو، ۞ حضرت عمر رَضِیَ اللهُ تعالٰی عَنْه د دين د سربلندئ د پاره بےشميره خدمتونه كړي دي، ۞ د حضرت عمر رَضِیَ اللهُ تعالٰی عَنْه دورِ خلافت د اسلام ښكلي دور كښې شميرلے كيږي، ۞ د

حضرت عمر رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہ دور د دِین داریٔ او عدل و انصاف دور وو، ۞ حضرت عمر رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہ د علم و حکمت رنړا وو، ۞ حضرت عمر رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہ د اسلام فخر وو، ۞ حضرت عمر رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہ یو وعده پوره کوونکے شخصیت وو. الله پاك دِ مونږ ته د هغوئي په نقشِ قدم د تللو توفیق را نصیب کړي.

د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہ خصوصیات او خدمتونه دومره ډیر دي چه د شمیر نه بهر دي، د هغوئی متعلق نور معلومات حاصلولو د پاره د دعوتِ اسلامي د اشاعتي ادارے **مکتبةُ المَدینه** کتاب "**فیضانِ فاروقِ اعظم**" مطالعه کول ډیره زیات فائده مند دي. اَلْحَمْدُلِلّٰہِ دا عظیم کتاب په 2 جلدونو کښې شائع شوے دے، دا کتاب د **مکتبةُ المَدینه** نه هدیةً حاصل کړئ او مطالعه ئې اوکړئ او نورو اسلامي ورونړو ته هم د دې [د مطالعے] ترغیب ورکړئ.

## فضائلِ عمر په ژبه د مصطفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

د **اَمِیرُ المُؤمِنین** حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہ په عظمت و شان او فضیلت کښې ډیر فرامینِ مصطفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم موجود دي. راځئ چه! مونږه هم د هغه فضائلو نه څه فضائل واورو:

☆ رَسولُ الله صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حضرت عمر رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہ ته پخپله علم عطا کړے

وو.[1] ☆ رَسولُ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرت عمر رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ د دورِ خلافت قوت بيان کړے وو.[2] ☆ رَسولُ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرت عمر رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ په باره کښې فرمائيلي وو چه شيطان هغوئي اُووِيني نو خپله لاره بدله کړي.[3] ☆ رَسولُ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرت عمر رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ په باره کښې فرمائيلي دي چه **دوئي نبي نه دے خو د انبياؤ په شان کلام کوونکے دے.**[4] ☆ رَسولُ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرت عمر رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ **د اسلام قبلولو دُعا فرمائيلي وه.**[5] ☆ رَسولُ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرت عمر رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ په باره کښې فرمائيلي دي چه **د دوئي په اسلام قبلولو باندې آسمان والؤ هم خوشحالي کړي وه.**[6] ☆ رَسولُ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرت عمر رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ په باره کښې فرمائيلي دي: **که زما نه پس بل نبي وے نو عمر به وے.**[7] ☆ رَسولُ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرت عمر رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ په باره کښې فرمائيلي دي: **زما نه پس به حق د عمر سره وي.**[8] ☆ رَسولُ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرت عمر رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ په باره

---

[1] ...(بخاری، کتاب فضائل اصحاب النبی، باب مناقب عمر۔۔۔الخ، ۲/۵۲۵، حدیث: ۳۶۸۱ملخصاً)

[2] ...(بخاری، کتاب فضائل اصحاب النبی، باب مناقب عمر۔۔۔الخ، ۲/۵۲۵، حدیث: ۳۶۸۲ملخصاً)

[3] ...(بخاری، کتاب فضائل اصحاب النبی، باب مناقب عمر۔۔۔الخ، ۲/۵۲۶، حدیث: ۳۶۸۳)

[4] ...(بخاری، کتاب فضائل اصحاب النبی، باب مناقب عمر۔۔۔الخ، ۲/۵۲۸، حدیث: ۳۶۸۹)

[5] ...(ترمذی، کتاب المناقب، باب فی مناقب ابی حفص۔۔۔الخ، ۵/۳۸۳، حدیث: ۳۷۰۳)

[6] ...(ابن ماجه، کتاب السنة، فضل عمر، ۱/۷۶، حدیث: ۱۰۳)

[7] ...(ترمذی، کتاب المناقب، باب فی مناقب ابی حفص۔۔۔الخ، ۵/۳۸۵، حدیث: ۳۷۰۶)

[8] ...(مسند بزار، عطاء بن ابی رباح۔۔۔الخ، ۶/۹۸، حدیث: ۲۱۵۴)

کښې فرمائيلي دي: **د فاروقِ اعظم محبت د اِيمان ضمانت دے.**[1] ☆ رَسولُ الله صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت عمر رَضِیَ اللّٰہُ تعالٰی عَنْہ ته **د جنت زيرے ورکړے دے.**[2] ☆ رَسولُ الله صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرت عمر رَضِیَ اللّٰہُ تعالٰی عَنْہ په باره کښې فرمائيلي دي: **شيطان هم د هغوئي نه يَريږي.**[3] ☆ رَسولُ الله صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرت عمر رَضِیَ اللّٰہُ تعالٰی عَنْہ په باره کښې فرمائيلي دي: **د چا نه چه عمر ناراضه شي د هغه نه الله پاك هم ناراضه کيږي.**[4]

وہ عمر جس کے اَعدا پہ شَیدا سَقَر

اس خدا دوست حضرت پہ لاکھوں سلام

(حدائقِ بخشش، حصہ دوم، ص۳۱۲)

**مختصر وضاحت:** هغه فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ تعالٰی عَنْہ چه د هغه په دښمنانو باندے هغه دوزخ عاشق دے کوم چه به هغوئي راښکاري، د الله په داسې ولي باندے زمونږه ډير ډير سلام.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## مجلس تراجم

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د صحابه کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان په نقشِ قدم باندے د تللو، نيکئ کولو او د ګناهونو نه د بچ کيدلو د پاره د عاشقانِ رسول مدني تحريك

[1] ...(کنز العمال، کتاب الفضائل، فضل الشیخین۔۔۔الخ، ۷/۸، حدیث: ۳۶۱۱)

[2] ...(بخاری، کتاب فضائل اصحاب النبی، باب مناقب عمر۔۔۔الخ، ۲/۵۲۹، حدیث: ۳۶۹۳)

[3] ...(ترمذی، کتاب المناقب، باب فی مناقب ابی حفص۔۔۔الخ، ص۳۸۷، حدیث: ۳۷۱۱)

[4] ...(جمع الجوامع، ۱/۸۳، حدیث ۴۳۴)

دعوتِ اسلامي مدني ماحول سره خپل تَعَلُّق مضبوط ساتئ، د عاشقانِ رسول مدني تحريك دعوتِ اسلامي په ټوله دُنيا کښې د نيکئ دعوت خوروي. دعوتِ اسلامي د 107 شعبو په ذريعه د ژوند مختلفو شعبو سره تعلق لرونکو مسلمانانو د اصلاح کوشش هُم کوي، په دې شعبو کښې يوه شعبه "**مجلس تراجم**"هم ده چه هغه د اَمِيرِ اهلسنّت، حضرتِ علّامہ مَولانا محمد الياس عطّار قادِرى دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ او د **مکتبةُ المدينه** د نورو کتابونو او رسالو په مختلفو ژبو کښې د ترجَمه کولو خدمت کوي چه اردو لوستونکو سره سره د دُنيا نورو ژبو والا کروړونه خلق هم د دې کتابونو بَرَکتونه حاصل کړي او د هغوئي هم دا مدني ذهن جوړ شي چه **ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح کولو کوشش کول دي.** اِنْ شَآءَاللّٰه

په ډير کم وخت کښې د دې مجلس تحت د دُنيا په مختلفو ژبو کښې د اَمِيرِ اهلسنّت، حضرتِ علّامه مَولانا محمد الياس عطّار قادِرى دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ د ډيرو تصانيفو او د **مکتبةُ المدينه** د نورو کتابونو او رسالو ترجَمه شوي ده. مونږ له هم پکار دي چه د دې کتابونو او رسالو پخپله هم مطالَعه اوکړو او نورو ته هم د دې ترغيب ورکړو، د دې د تقسيمولو سلسله هم جاري ساتو او که کيدے شي نو د نيکئ دعوت عام کولو په نيت په تحفو کښې کتابونه او رسالے ورکوو.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د بیان په آخره کښې د سُنَّتو فضیلت او یو څو سُنَّتونه او آداب د بیانولو ثواب حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، **شَهَنْشاهِ نُبُوَّت** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: ''چا چه زما سُنَّتو سره مَحَبَّت اوکړو هغه زما سره مَحَبَّت اوکړو او چا چه زما سره مَحَبَّت اوکړو هغه به جنّت کښې زما سره وي.'' (ابنِ عساکر ج۹ص ۳۴۳)

سینہ تیری سُنَّت کا مدینہ بنے آقا جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

**سِینه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدینه خوږه آقا**

**جنّت کښې مې خپل جوړ کړه ګاونډې خوږه آقا**

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## د میلمستیا سنتونه او آداب

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** راځئ چه! د میلمستیا سنتونه او آداب د اوریدلو سعادت حاصل کړو. اول **درے فرامِینِ مصطفٰی** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم واورئ (1) څوك چه چه (د قدرت لرلو باوجود) میلمستیا نه کوي په هغه کښې خیر نشته. (مُسند احمد، ۶/ ۱۴۲، حدیث: ۱۷۴۲۴) (2) د سړي دا کم عقلي ده چه د میلمه نه خدمت اخلي. (اَلْجامِعُ الصَّغِیر، ص۲۸۸، حدیث :۴۶۸۶) (3) سنت دا دي چه سړے به میلمه د دروازے پورے رخصتولو له ځي. (ابن ماجه، ۴/۵۲، حدیث: ۳۳۵۸) ۞میلمه له پکار دي چه د خپل کوربه د مصروفیاتو خیال ساتي. ۞صدر الشریعه حضرت مفتي محمد امجد علي اعظمي رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: میلمه له څلور خبرے ضروري دي. (۱) کوم ځائے ئې چه کښېنوي هلته دِ

کښېني (۲)څه چه ورته مخې ته کېښودے شي په هغے دِ خوشحاله شي، (داسې نه ده پکار چه اووائي: د دې نه ښه خوراك خو زه په خپل کور کښې کووم یا داسې قِسم نور الفاظ). (۳) د کوربه د اِجازت نه بغیر دِ د هغه ځائے نه نه پاڅي. (٤) چه کله بیرته ځي نو د هغه د پاره دِ دُعا اوکړي. (عالمگیری،۳۴۴/۵) ۞ کور یا طعام وغیره معاملاتو کښې هيڅ قِسم عیب مه را اوباسئ او مه د دروغو صفتونه کوئ. کوربه دِ هم د میلمه نه داسې تپوسونه نه کوي چه هغه د دروغو وئیلو په خطره کښې پریوځي مثلاً زمونږ د کور پخلے څنګه وو؟ ستاسو خوښ شو که نه؟ په داسې موقع باندے که د هغه نه وي خوښ شوے نو د کوربه د زړه ساتلو د پاره به د هغه د کور د طعام د دروغو صفت اوکړي او ګنهګار به شي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!     صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

په زرګاؤ سنّتونه زده کولو د پاره د مَكْتَبَةُ الْمَدِیْنَه دوه کتابونه (۱) د **۳۱۲** صفحو کتاب "بهارِشریعت" حصّه ١٦ او (۲) د **۱۲۰** صفحو کتاب "**سُنّتیں اور آداب**" هدیه کړئ او اولولئ ئې. د سُنّتو د تربِیَّت یوه بهترینه ذریعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافِلو کښې عاشِقانِ رسول سره د سُنّتو ډك سفر هم دے.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!     صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د راروانے هفته وارې اجتماع د بیان جهلکیانې

**خورو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د آئنده هفته وارې د سُنّتو ډكې اجتماع د بيان موضوع به وي"**د محرم الحرام بركتونه**" د اسلامي كال شروع د **مُحَرَّمُ الْحَرَام** د بابركته مياشتے نه كيږي، اللّٰه پاك مونږ ته د اسلامي كال وړومبۍ مياشت كښې د اجر و ثواب حاصلولو ډيرې موقعے عطا كړي دي، په هُم دې مناسَبت به مونږه د راروانے هفتے په بيان كښې د **مُحَرَّمُ الْحَرَام** فضائل، په دې كښې د عبادت كولو بركتونه، د روژو نيولو او مسلمانانو سره د خير ښيګړې كولو او د اللّٰه په لاره كښې د مال خرچ كولو د فضائلو سره سره په دې مياشت كښې د بُزرګانو د عبادتونو واقعات هم اورو. لِـهٰذا راروان زيارت له هُم اجتماع كښې د حاضرۍ نِيَّت اوكړۍ. پخپله د راتلو بلكه د انفرادى كوشش كولو او نور اسلامى ورونړه ځان سره د راوستلو نِيَّت هُم اوكړئ. لاس اوچت كړئ او په زوره اُووائې. اِنْ شَآءَاللّٰه

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د هفته وارې اجتماع درودِ پاك

د دعوتِ اسلامى هفته واره د سُنَّتو ډكه اجتماع كښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴾1﴿ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

**اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِي الْقَدْرِ**

الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چه څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے اور زيارت مينځنئ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندئ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چه سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسونو باندې کوزوي.[1]

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ نه روايت دے چه تاجدارِمدينه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چه دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّدٍ

څوك چه دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[2]

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

1... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ملخصًا

2... القول البديع، الباب الثانی، ص٢٧٧

حضرت اَحْمَد صاوِی رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[1]

## ﴾5﴿ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰی لَهٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنْور صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ په مينځ کښې کښينولو، دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُم حيران شو چه دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبې والا] دے! چه کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چه کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسې ئې لوَلي.[2]

## ﴾6﴿ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِیَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چه داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[3]

## ﴾1﴿ د يو زر ورځو نيکۍ:

جَزَی اللهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

---

1…افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

2…القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵

3…الترغیب والترہیب، کتاب الذکر و الدعاء، ۳۲۹/۲، حدیث:۳۰

حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُمَا نه رِوایت دے چه سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[1]

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چه حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چه شَبِ قَدر حاصل کړو.[2]

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

(د خُدائے حَليم وکريم نه سِوا هيڅ څوك د عِبادت لائِق نشته، اللّٰه پاک دے چه د ووه وارو آسمانونو او د عرشِ عظِيم پروردګار دے)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

1... مجمع الزوائد، کتاب الادعیة، باب فی کیفیة الصلاة... الخ، ۱۰/۲۵۴، حدیث: ۱۷۳۰۵

2... تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث: ۴۴۱۵